مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۲ / ۲۲

# د پاکستان وروستي هوايي بريدونه او د طالبانو د دفاعي ناتوانی دوام

تېره شپه ( د روان کال د فبروري په ۲۲مه ) پاکستان یو ځل بیا د خپلو پخوانیو سرغړونو په دوام د افغانستان پر خاوره هوايي بريدونه ترسره او د ننگرهار او پکتيکا ملکي سيمې يې په نښه کړې. په دې تړاو څو مهم ټکي د پاکستان، هندوستان او افغانستان له دریځونو د یادونې وړ دي :

**پاکستان :**

پاکستان دا مهال د ژورې سياسي ګډوډۍ او کورنيو امنيتي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی. هغه پخواني هوايي بريدونه چې يې پر افغانستان کړي وو، نه یوازې د پاکستان د امنيت د ښه کېدو لامل نه شول، بلکې د پاکستان د نه د افغان طالبانو د متحدينو د لا زيات غبرګون سبب شول. د طالبانو متحدين لکه تی، تی، پی او بلوڅ ازادي غوښتونکي پر افغانستان برید د ځان پر ضد برید ګڼي او بې له ځنډه يې  په خپلواکه توګه ځوابوي. پاکستان تر اوسه داسې کوم ثبوت نه دی وړاندې کړی چې افغان طالبان دې د پاکستان په ناامنۍ کې لاس ولري.

پر ملکي هدفونو برید په نړیوالو حقوقو کې **جنګي جنايت** بلل کېږي او د پاکستاني چارواکو د اخلاقي سقوط ځرګندونه کوي.

**هندوستان :**

هندوستان چې په دې وروستيو کې د طالبانو له نږدې اړیکو څخه راضي ښکاري، افغانستان يې د پاکستان د تېريو پر وړاندې يوازې پرې ايښی دی. که هند د افغانستان د هوايي ځواک په تجهيز کې کوم سياسي يا ستراتيژيک ملاحظات لري، لږ تر لږه کولای شي د کشمير په جغرافيه کې د پاکستان د مصروفولو له لارې د افغانستان په غير مستقيم ملاتړ کې رول ولوبوي.

**افغانستان :**

طالبان په څلورو کلونو واکمنۍ کې ونه توانېدل چې د افغانستان دفاعي بنسټونه ورغوي او يا د دوستو هېوادونو په همکارۍ د هېواد د هوايي حريم د ساتنې وړتيا ترلاسه کړي. د هوايي دفاع نشتوالی دا معنا لري چې د پاکستان بريدونه به په راتلونکي کې هم تکرار شي او نور بې‌ګناه ملکيان به د پاکستان د پوځ د جنګي جنايت قرباني شي.

**اوس اساسي پوښتنه دا ده چې :**

ايا طالبان د خلکو د ژوند او مال ساتنه خپل مسئوليت ګڼي؟

که يې مسئوليت ګڼي، نو يوازينۍ عملي لاره دا ده :

* د اساسي قانون پر بنسټ يوه مسئول او مشروع حکومت جوړول
* د خلکو او نړيوالي ټولنې د غوښتنو په منلو سره له ډيپلوماتيک انزوا څخه وتل
* په سيمه او نړۍ کې د باور وړ ستراتيژيک متحدينو لټول
* د ستراتژيک متحدينو په مرسته د ځمکنيو ځواکونو پياوړتيا او د هوايي دفاع تجهيزول.

**»پای«**



آرشیف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ